ورځپاڼه
مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۷ د لړم اتمه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۳۰مه | دویم کال| ۲۷۶یمه گڼه

# د ټاکنو د روڼتیا لپاره دې پر شویو هوکړو عمل وشي




۳

ځيره

۴ مخ




## د کونړ په کروندگرو د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرو وېش پیل شو



د کونړ د کرنې او مالدارۍ رييس انجنير انعام‌الله ساپي د يکشنبې په ورځ په دې اړه ازادي راډيو ته وويل، د وېش دغه لړۍ يې له مرکز اسعداباده پيل کړې چې په هر يوه کروندگر به ۵۰ کيلو گرامه د غنمو اصلاح شوی تخم او ۱۰۰ کيلو گرامه کيمياوي سره ووېشي.

بل خوا بيا د کونړ کروندگر وايي، د کرنې رياست دې د دوی د للمې ځمکو د خړوبولو لپاره له سينده د اوبو راپورته کولو په خاطر له لمريزې برېښنا گټه واخلي، څو يې کښتونه د تېر کال په څېر بيا د وچکالۍ په وجه ونه سوځي.

کونړ د هېواد په ختيځ کې يو غرنی او لرې پروت ولايت دی چې دوه سيندونه لري او گڼ اوسېدونکي يې په مالدارۍ او کرکېله بوخت دي، خو تېر کال وچکالۍ سخت ځپلي او اوس د کرنې او مالدارۍ رياست ورته د غنمو اصلاح شوي تخمونه او کيمياوي سره ورکوي.

له فساد سره مبارزه یو هېر شوی لومړیتوب

۲ مخ

د رازق شهادت او د برادر خلاصون؛ پاکستان څه لوبه کوي؟

۲ مخ

برېالي اشخاص له پیسو سره دا تېروتنې نه کوي!

۵ مخ

## پاکستاني رسنۍ: ملا برادر د خلیلزاد په شخصي غوښتنه خوشې شوی

د طالبانو پخوانی چارواکی ملا برادر په پاکستان کې له نهه کاله بنده د زلمي خليلزاد په شخصي غوښتنه خوشې شوی دی.

پاکستانۍ ډان ورځپاڼې ته د امريکا په بهرنيو چارو وزارت کې باوري سرچينو ويلي چې د ملا برادر د خوشې کېدو غوښتنه نه يوازې طالبانو کوله، بلکې زلمي خليلزاد هم په شخصي توگه د هغه پر خوشې کېدو ټينگار کاوه.

سرچينې ويلي چې افغانستان، پاکستان او قطر ته د زلمي خليلزاد د سفر په پايله کې ملا برادر خوشې شوی دی.

دې سرچينې ويلي چې خليلزاد د پاکستان پر حکومت ډېر ټينگار کړی، څو ملا برادر د افغان سولې د خبرو د چټکتيا او پرمختگ لپاره خوشې کړي.

پاکستاني حکومت د افغان حکومت له پرله پسې غوښتنو سره سره ملا برادر نه خوشې کاوه، خو د امريکا په غوښتنه يې نوموړی له بنده خوشې کړی دی.

ملا برادر د طالبانو د پخواني مشر ملا محمد عمر مرستيال و چې د طالبانو په ليکو کې له خورا ډېر نفوذه برخمن و.

هغه دمگړۍ د پاکستاني پوځ له زندانه خوشې شوی او په اسلام اباد کې تر درملنې لاندې دی.

په کابل کې د اسلام اباد سفارت وړمه ورځ د نوموړي خوشې کېدل تاييد کړل.

## بنو کې د پي ټي ایم غونډه په پراخه توگه ستایل شوې ده




۲ مخ

## داعش مسئولیت حمله بر کارمندان کمیسیون انتخابات را به عهده گرفت



گروه تروریستی داعش مسئولیت حمله انتحاری صبح دیروز بر موتر حامل کارمندان کمیسیون مستقل انتخابات را به عهده گرفت.

در حمله انتحاری صبح دیروز دوشنبه (۷عقرب) بر موتر حامل کارمندان کمیسیون مستقل انتخابات در شهر کابل، یک سرباز پولیس و یک کارمند این کمیسیون کشته شده و ۵ کارمند دیگر این نهاد زخم برداشتند.

پولیس کابل گفته است که مهاجم انتحاری پیاده بود و زمانی‌که از سوی پولیس شناسایی شد، مواد انفجاری همراهش را منفجر کرد.

همچنان، عبدالعزیز ابراهیمی معاون سخنگوی کمیسیون انتخابات گفته است که دو تن از کارمندان زخمی شده این کمیسیون، زنان هستند. به گفته او، وضعیت صحی یکی از زخمی‌ها نگران کننده است.

پیش از این، مسئولان حوزه نهم امنیتی شهر کابل به رسانه‌ها گفته بودند که هدف این مهاجم انتحاری، کارمندان کمیسیون انتخابات بوده و در نتیجه آن ۴ کارمند این کمیسیون زخم برداشته‌اند.

این مسئولان گفته بودند که در این حمله بر علاوه چهار کارمند کمیسیون انتخابات که در میان آن یک زن نیز حضور دارد، دو پولیس هم زخمی شده بودند.

این نخستین حمله انتحاری به جان کارمندان کمیسیون انتخابات پس از برگزاری انتخابات ولسی جرگه ۲۸ میزان سال جاری است.

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دریځ

## له فساد سره مبارزه یو هېر شوی لومړیتوب

پر یوه وخت له ګڼو ستونزو سره مخ کېدو، د ملي یووالي له حکومت څخه لومړیتوبونه ورک کړي دي. دولت کله امنیتي ننګوني دومره بوخت کړي چې د نورو ټولو ستونزو حل ترې پاتې شي، کله بیا پر اقتصادي برخه دومره تمرکز وکړي چې د حکومتولۍ نورو ټولو لومړیتوبونو ته شا کړي.

د ملي یووالي حکومت د کار په پیل کې له فساد سره مبارزه یو عمده لومړیتوب یاداوه. سره له دې چې په دې برخه کې بنسټیز کارونه ونه شول، خو ځینو سمبولیکو اقداماتو هم له دې شومې پدیدې چې له جګړې وروسته تر ټولو ستر ګواښ بلل کېږي او ان د جګړې د دوام د یوه عامل په سترګه ورته کتل کېږي، د خلاصون لپاره هیلې ژوندۍ کړې وې. تمه دا وه چې د وخت په تېرېدو سره به دغه سمبولیک اقدامات په تدریج د فساد د محوه کولو پر لور د بنسټیزو کارونو حد ته ورسېږي او په دې ډول به هغې ستونزې ته چې نظام له دننه خوري، یو معقول حل پیدا او د قانون حاکمیت ته به لاره هواره شي؛ خو داسې ونه شول. د ملي یووالي حکومت رهبرۍ هم د بېلابېلو عواملو له کبله له فساد سره مبارزې او د قانون رښتیني حاکمیت ته شا کړه. هغه سمبولیک اقدامات چې لږ تر لږه یې په دې برخه کې هیلې ژوندۍ ساتلې وې، هم په ټپه ودرېدل.

په اوسني وخت کې خو له فساد سره مبارزه په یو ډول له سیاسي بحثونو بېخي غورځېدلی لومړیتوب دی. د دولتي دستګاه ډېره برخه د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره پر چمتووالي بوخته ده. په داسې حال کې که چېرې د اصلاحاتو یا بدلون لپاره سیاسي اراده موجوده وی، د ولسمشرۍ په دې دوره کې هم د پام وړ بدلونونه رامنځته کېدلی شوای. دغه کار د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره د اوسني ټیم کار نور هم اسانه کولی شوای. دوی به ولس ته د رایې ترلاسه کولو په موخه د قناعت وړ دلیل درلود. د ژوندیو بېلګو په وړاندې کولو سره به یې ویلی شوی چې له فساد سره د مبارزې په برخه کې چې د افغانانو د ژوند ټول اړخونه یې متاثره کړي، دومره لاسته راوړنې لرو او که بیا باور راباندې کېږي؛ دغه بهیر به لا چټک او ګړندی کړو.

ټولې هغه ناخوالې چې دولت ورسره لاس او ګرېوان دی، د درک وړ دي، خو له فساد سره مبارزه باید د دولت اساسي لومړیتوب وي. د جګړې د پای ته رسولو لپاره هم له فساد سره د رښتیني مبارزې اړتیا ده، ځکه دا پر نورو سربېره د جګړې د دوام یو عمده عامل هم دی. د حکومتولۍ په برخه کې نورې ستونزې او ننګونې باید له فساد سره مبارزه د دولت له لومړیتوب څخه ونه غورځوي.

## د رازق شهادت او د برادر خلاصون؛ پاکستان څه لوبه کوي؟

لیکنه: ارشاد رغاند

پاکستان بالاخره له څو کلني نن – سبا ویلو وروسته د وسله والو طالبانو یو مهم مشر ملاعبدالغني برادر له خپل زندان څخه خوشي کړ.

ملا برادر څو کاله مخکې پاکستاني پولیسو ترهغې وروسته ونیو چې ویل کېږي د حامد کرزي له حکومت سره یې د سولې خبرو ته لېوالتیا ښودلې وه.

د ښاغلي کرزي حکومت سولې ته د برادر د همدې لېوالتیا له کبله د پاکستان له حکومت څخه بیا بیا د هغه د خوشي کېدو غوښتنه کوله.

پاکستاني چارواکو هم بیا بیا د نوموړي د خوشي کولو ژمنه کوله، خو عملاً یې په دې برخه کې کوم ګام نه اخیست.

د پاکستان له خوا په دې زماني مقطع کې د ملا برادر خوشي کول پوښتنه پیدا کوي چې دغه هېواد له دې اقدام سره کومې موخې تعقیبوي، یا کومه لوبه کوي؟

د دې پوښتنې په ځواب کې د ملا برادر خوشي کېدل د افغانستان د روان وضعیت له مختلفو خواوو سره تړل کېدای شي، خو دلته د جنرال رازق د شهادت له قضیې سره د دې مسئلې تړاو ته نظر اچوو.

د جنرال رازق له قضیې پام اړول

ملابرادر په داسې مهال د پاکستان له بنده خوشي شوی چې د افغانستان حکومت رسماً پاکستان د خپل یوه مقتدر پوځي او سیاسي شخصیت جنرال عبدالرازق د شهادت د قضیې په تنظیمولو تورن کړی.

د جنرال رازق شهادت نه یوازې دا چې افغان حکومت او ملت ته یوه جدي قضیه ده؛ بلکې نړیوالې ټولنې او په خاص ډول امریکا ته هم مهمه موضوع ده.

په داسې وخت کې د ملا برادر د خوشي کېدو موضوع په ډېر ګومان د جنرال رازق د شهادت له قضیې څخه د افغانستان او نړۍ د پام اړولو یوه هڅه کېدای شي.

تریوه ځایه کامیاب تکتیک

د پاکستان دا ډول لوبه له افغانستان سره نوې نه ده. دغه هېواد تردې وړاندې هم په ځلونو ځلونو په ورته لوبو سره د ځان پر وړاندې له جدي ټکیو د افغان حکومت پام په بله اړولی دی.

د لوبې دا تکتیک له بده مرغه هرځل تر یوه ځایه کامیاب ثابت شوی او پاکستان توانېدلی چې په حساس وخت کې د دوه اړخیزو اړیکو مسیر او پر ځان د فشارونو کچه را ټیټه کړي.

دا ځل هم د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د فعالې، خو ډېرې منافقانه ډیپلوماسۍ په ادا کولو سره له یوې خوا په کابل کې د خپل سفارت په وسیله د ملابرادر د خوشي کېدو اعلان وکړ او له بل لوري یې د بهرنیو چارو وزیر د جنرال رازق په قضیه کې د ور پورې شویو تورونو د رد لپاره د ملا برادر خوشي کېدل د افغانستان پر وړاندې د خپل هېواد حسن نیت وباله.

کمزورې مقابله

افغانستان له بده مرغه ونه توانېد چې د پاکستان له داسې بیا بیا خورا منافقانه لوبو وروسته د دغه هېواد بشپړې مقابلې ته هر اړخیز چمتووالی( لږ ترلږه په ډیپلوماتیکه برخه کې) ونیسي.

دې داسې اماده ګۍ د نه لرلو دلیل هم واضح او تر ډېره حده زموږ په ډیپلوماتیکه دستګاه کې د سمو ګومارنو او سیستم جوړونې پرځای پر سیاسي او سلیقوي چلندونو د ملي یووالي حکومت تمرکز دی.

دا موضوع تر دې حده جدي ده چې د بهرنیو چارو وزارت مخکیني سیاسي مرستیال حکمت خلیل کرزي ان د مخه ښې په مراسمو کې تېره اونۍ شکایت ترې وکړ.

موږ که غواړو د پاکستان له شرمونکو لاسوهنو په سم ډول خلاص شو، زموږ د ډیپلوماتیکې دستګاه په واقعي مانا فعالول او مسلکي کول به راته یو مهم مسوولیت وي.

## بنو کې د پي ټي ایم غونډه په پراخه توګه ستایل شوې ده

پښتون ژغورنې غورځنګ یا پي ټي ایم ورمه ورځ د پښتونخوا په تاریخي ښارګوټي «بنو» کې ولسي غونډه درلوده چې لسګونو زرو کسانو پکې ګډون کړی و.

د بنو په غونډه کې د سوېلي او شمالي وزیرستانونو په شمول د کوټې، پېښور، ملاکنډ او پښتونخوا د بېلابېلو برخو اوسېدونکو ګډون کړی و.

د پښتون ژغورنې غورځنګ فعالان وایي، د بنو د غونډې لپاره یې دېرش زره څوکۍ راغوښتې وې، خو د څوکیو د دوه برابره په شمېر خلکو په غونډه کې ګډون کړی و.

بي بي سي د ازاد خبریال عمر درزا وزیر له قوله ویلي چې په بنو کې د پي ټي ایم په غونډه کې لږ تر لږه ٦٠ زرو کسانو ګډون کړی و.

د بنو په غونډه کې د پي ټي ایم د نورو غونډو په څېر د ترې تم شویو کسانو د کورنیو غړیو، ماشومانو، ښځو او سپین ږیرو هم ګډون درلود.

په یاده غونډه کې د پښتون ژغورنې غورځنګ سپین ږیري غړي فیض محمد کاکا هم ګډون درلود. اته اتیا کلن دا سپین ږیری په صوابۍ کې د غورځنګ تر ولسي غونډې وروسته پاکستانیو پولیسو نیولی و، چې پر خواله رسنیو یې د «زولنو عکسونه» لاس په لاس شوي و.

پښتون سیاستوال او د عوامي نېشنل ګوند غړی افراسیاب خټک د بنو ولسي غونډه تاریخي یادوي او وایي چې یادې سیمې تل د پښتنو د غورځنګونو ملاتړ کړی دی:

«که څه هم د یاد غورځنګ پېل له وزیرستانه شوی، خو وړانګې یې اوس تر کوټې، پېښور او ملاکنډه رسېدلې دي او دا اوس یو تاریخي غورځنګ دی».

د پي ټي ایم مشر منظور پښتین د بنو غونډې ته په وینا کې وویل چې د پښتنو د حقوقو د ترلاسه کولو تر وخته به خپلې مبارزې ته دوام ورکوي.

د غورځنګ یوه بل فعال او د پاکستان د پارلمان غړي محسن داوړ ویلي چې مبارزې یې لویې لاسته راوړنې درلودلې دي او تر ټولو لویه لاسته راوړنه یې دا ده چې پښتنو ته یې د خپلو حقونو د ترلاسه کولو جرئت ورکړی دی. داوړ وایي، د دوی د مبارزې پایله ده چې اوس هر پښتون ځان پښتین، داوړ او علي وزیر بولي.

د پښتون ژغورنې غورځنګ د بنو غونډې ته د تېر په څېر یو ځل بیا هم رسنیو پوښښ ورنه کړ، خو د تېر پر خلاف دا ځل هلته ټلیفوني او انټرنېټي خدمتونه هم ځنډول شوي وو.

په دې وروستیو کې فکر کېده چې د پښتون ژغورنې غورځنګ کمزوری شوی، خو د بنو غونډې یې ثابته کړه چې د پښتین اواز لا هم اوچت دی او په پښتونخوا او قبایلي سیمو کې په لسګونو زره ملاتړي لري.

## په بشري جنایتونو تورن حکیم شجاعي ټپي او مرستیال یې وژل شوی دی

په اروزګان کې د نښتې پر مهال په دغه ولایت کې د سیمه ییزو پولیسو پخوانی قوماندان حکیم شجاعي ټپي او مرستیال یې له ۲۰ نورو کسانو سره وژل شوی دی.

ځایي امنیتي سرچینې وایي چې دا پېښه ورمه ورځ د دغه ولایت د خاص اروزګان ولسوالۍ په حسیني کلي کې رامنځته شوې ده.

د خاص اروزګان ولسوالۍ یوه قومي مشر د نوم نه ښودو په شرط رسنیو ته ویلي چې دا نښته د یوې ښځې پر سر رامنځته شوې ده.

سرچینې زیاته کړې چې د ولسوالۍ له کُندلان کلي څخه یوه ښځه د حسیني کلي ته تښتېدلې وه، کله چې د کندلان کلي مشران حسیني کلي ته ورځي؛ نو هغوی پرې برید کوي. دغه اوسېدونکی وایي چې هلته د دواړو لورو ترمنځ سخته نښته کېږي چې له امله یې دواړو لورو ته مرګ ژوبله اوړي. د اروزګان والي اسدالله سعید هم په خاص اروزګان ولسوالۍ کې یاده نښته او له امله یې اوښتې مرګ ژوبله تایید کړې، خو په دې اړه یې د جزیاتو له ورکړې ډډه کړې ده.

سعید پژواک ته ویلي چې په خاص اروزګان ولسوالۍ کې مخابراتي شبکې سم کار نه کوي؛ ځکه خو دوی د پېښې په تړاو بشپړ معلومات نه دي ترلاسه کړي.

د اروزګان یوې امنیتي سرچینې پژواک ته ویلي چې وسله والو طالبانو په خاص اروزګان ولسوالۍ کې برید کړی چې د نښتې پر مهال د ښځو او ماشومانو په ګډون ۲۰ کسان پکې وژل شوي دي.

یادې سرچینې چې د نوم له څرګندولو یې ډډه کوله، زیاته کړې چې په وژل شویو کسانو کې د یادې ولسوالۍ د سیمه ییزو پولیسو د پخواني قوماندان حکیم شجاعي مرستیال هم شامل دی او په خپله شجاعي ټپي شوی دی.

دې امنیتي سرچینې له حکومته غوښتي چې خاص اروزګان ولسوالۍ ته بېړنۍ مرسته ولېږي، ځکه په وینا یې چې سیمه د سقوط له ګواښ سره مخ ده.

د طالبانو ویاند قاري یوسف احمدي رسنیو ته په یوه لېږلي پیغام کې ویلي چې د قوماندان شجاعي وسله والو پر دوی بریدونه کړي وو چې په ځوابي برید کې یې د قوماندان اتو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې ده.

هغه زیاته کړې چې په دې نښته کې د شجاعي اتو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې او د یوې ښځې په ګډون شپږ کسان یې ژوندي نیول شوي دي.

قوماندان شجاعي پنځه کاله مخکې په یاده ولسوالۍ کې د ملکي وګړو پر وژلو، ځورولو او ربړولو تورن شوی وچې کورنیو چارو وزارت د هغه د نیولو امر هم کړی و، خو په کابل کې د ځینو سیاسي مشرانو له خوا د هغه د ملاتړ له امله دغه کار ونه شو.

## د اقتصاد وزارت: د سي پېک په ګډون د ټولو هغو پروژو ملاتړ کوو چې د سیمې د اقتصاد لپاره مهمې دي

د اقتصاد وزارت وایي، افغان حکومت له هرې هغې پروژې ملاتړ کوي چې د سیمې د لویو پروژو بحث پکې مطرح وي.

د اقتصاد وزارت چارواکي وایي، که څه هم د «سي‌پېک» په پروژه کې د افغانستان د ګډون په اړه څه نه وایي، خو ټینګار کوي چې افغان حکومت په سیمه کې د هرې سترې اقتصادي پروژې ملاتړ کوي.

د دغه وزارت ویاند سهراب بهمن وایي، سي پېک او ورته پروژې یوازې د افغانستان لپاره نه، بلکې په ټوله کې د سیمې د سترو اقتصادي همکاریو لپاره مهمې دي.

بهمن زیاته کړې: «هره پروژه چې په سیمه کې رامنځته او یا د اقتصادي لویو ګټو لپاره مطرح کېږي، افغانستان ورته لبیک وایي او ملاتړ یې کوي، څه چې د افغانستان په اړه مطرح او زموږ په سترو سیمه ییزو پروژو کې شامل وي، په ټوله کې هغه پروژې دي چې یوه له بلې سره اړیکه لري او هره یوه یې کولای شي، د سوداګرۍ، ترانزیټ او انرژۍ په برخو کې مرسته وکړي.»

دا خبرې په داسې حال کې کېږي چې په دې وروستیو کې د پاکستان ځینو رسنیو د «سي‌پېک» د اقتصادي پروژې په ستراتېژۍ کې د افغانستان او ایران د مشارکت په اړه راپورونه خپاره کړي دي.

په راپور کې په اسلام‌اباد کې د چین د سفیر یانوجینګ په حواله ویل شوي چې افغانستان به په نږدې راتلونکي کې په دې پروژه کې برخه واخلي.

په راپور کې دا هم راغلي چې د «سي‌پېک» د پروژې ګټه به نه یوازې پاکستان او چین، بلکې د سیمې ټولو هېوادونو ته ورسېږي.

د اقتصاد وزارت د معلوماتو له مخې د «سي‌پېک» پروژه یا د چین او پاکستان ګډ اقتصادي دهلېز هغه پروژه ده چې له چین نه پیلېږي او په مستقیمه توګه د پاکستان له خاورې تر ګوادر بندره رسېږي.


دغه وزارت وایي، افغانستان له پاکستان سره څو ځایه ګډه پوله لري او د چمن، غلام خان او تورخم د بندرونو له لارې، له دغه دهلېز سره نښلېدلی او کولای شي چې له دغو لارو د چین بازارونو، ګوادر او د اوبو نورو نږدې بندرونو ته لاسرسی پیدا کړي.

په ورته وخت کې د اقتصادي چارو ځینې پوهان وایي، د «سي‌پېک» په پروژه کې د افغانستان شاملېدل مثبتې اغېزې لري او باید پام ورته وشي.

د اقتصادي چارو شنونکي سیدقیاس سعیدي په دې اړه ازادي راډیو ته ویلي: «دا چې افغانستان په دې پروژه کې شاملېږي، ملاتړ او اغېزې یې هم زیاتېږي. دا چې امنیت یې تامین شي او د افغانستان، پاکستان او چین خلکو ته یې ګټې رسېږي، باید موږ یې ملاتړ وکړو.»

که څه هم افغان حکومت په دې پروژه کې د افغانستان د برخې اخیستو په اړه نظر نه دی څرګند کړی، خو سعیدي سپارښتنه کوي چې که افغانستان په دې پروژه کې د شاملېدو تصمیم نیسي، باید په افغانستان کې له خپلو نړیوالو متحدینو سره مشورې وکړي چې په راتلونکي کې له ستونزو سره مخ نه شي.

د ده په خبره، چین د امریکا کلک رقیب دی، امریکا له افغانستان سره ستراتېژیکه ملګرتیا لري، خو پاکستان بیا د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره ښه نیت نه لري.



# سنډې ټایمز: امریکا د کورنۍ جګړې پر پوله ولاړه ده

امریکایي ورځپاڼې سنډې ټایمز په خپله یوه مقاله کې ګواښ کړی چې امریکا په حاضر وخت کې له بل هر وخت ډېره وېشلې او شکېدلې ده، چې له امله یې هېواد د دویم ځل لپاره د یوې حقیقي کورنۍ جګړې پر پولو ولاړ دی. سرچینې پر امریکایانو غږ کړی چې باید بیدار اوسي.

د انګرېز لیکوال نیال فیرګسون دغه مقاله کې څرګنده شوې چې امریکا اوسمهال له بل هر وخت ډېره هغې خونړۍ ټولوژنې ته نږدې ده، چې اتحادي ځواکونو پکې د ۱۸٦۱ کال په اپرېل کې پر لویدیځه کارولینا برید وکړ.

نوموړي دې ته اشاره کړې چې تېره اونۍ د ولسمشر ټرمپ مشهورو منتقدینو ته د چاودېدونکو کڅوړو د استولو عملیه په امریکا کې د دویمې کورنۍ جګړې د وړاندوینو یوه کیلي ده، چې په پیټسبرګ کې د یهودو پر عبادتځای د وړمې ورځې برید یې نور پخلی هم کوي.

د لیکوال په وینا، ښي اړخي او چپیان دواړه د یو بل پر ضد ډېره ترخه ژبه کاروي او دا بشپړه څرګنده ده، چې د سیاسي تاوتریخوالي د پېښو د ډېرېدا شونتیا شته.

د تاریخپوه ګواهي

لیکوال وړاندې لیکي چې که څوک د کورنۍ جګړې د بیا پیلېدو په اړه خبرې وکړي نو له پامه غورځول کېږي، ځکه ګومان کېږي دوی د وېرې خپرولو هڅه کوي، خو کله چې د ویکټور ډیوېس هانسون په څېر تاریخپوه ګواښ وکړي چې امریکا د کورنۍ جګړې په درشل کې ده، نو باید ټول بیدار واوسي:

«په متحده ایالاتو کې د سیاسي بې ثباتۍ ډېرې نښې نښانې شته، په ځانګړې ډول د مساوات نه شتون، د ۲۰۲۰ په رارسېدو به دا نښې تر ټولو لوړې کچې ته پورته شي او هېواد به له یوې ترخې کودتا سره مخ کړي».

لیکوال د یوه بل امریکایي لیکوال ریهان مرشد سلام نوي کتاب ته اشاره کړې چې په وینا یې که د کډوالۍ په تګلاره کې اساسي اصلاحات را نه وستل شي، وضعیت به خورا خراب شي. دغه لیکوال د امریکا د اجتماعیاتو د پوه پیټر تورشین د هغه څرګندونو پخلی کړی چې د امریکا وضعیت ښه نه دی او په راتلونکو څو کلونو کې به پر یوه کودتا بدل شي.

ایډیالوژیک وېش

تورشین د دلیل په توګه وایي چې نړیوالتوب، انټرنېټ، چپیانو ته د ټولنو میلان او نامنظمه کډوالي هغه څه دي چې امریکایان یې له فکري پلوه سره وېشلي او جغرافیوي بڼه هم اخلي.

فیرګسون تبصره کوي چې د امریکا اوسنۍ سیاسي فضا تورشین اړ کړی چې د ۱۹مې پېړۍ د نیمایي د وخت له امریکا سره یې ورته وبولي، بلکې ان له میلاده پنځه پېړۍ مخکې د یونان له حالت سره یې ورته وبولي، چې کورنیو شخړو دا هېواد پر کوچنیو دولتونو ووېشه.


لیکوال دې ته اشاره کوي چې پر سیاسي ډګر د چپیانو او ښي اړخو دوه کوچنۍ ډلې کولی شي، چې دا شخړې راوپاروي او چوپ اکثریت دې ته اړ کړي چې تاوتریخوالي یا ومني او لږ تر لږه پرې چوپ پاتې شي.

لومړۍ کورنۍ جګړه

مقاله څرګندوي چې امریکایان د ۱۹مې پېړۍ په نیمایي کې د مریيتانې د قضیې په سر وېشل شوي وو او دغه بېلتون په ۱۸٦۰ کې ولسمشرۍ ته د ابراهام لینکولن له رسېدو سره سم د دې لامل شو چې ۷ لویدیځ ایالتونه جلا شي او لومړۍ کورنۍ جګړه پیل شي .

لیکوال خپله مقاله پر دې پای ته رسولې چې امریکایان اوسمهال پر ګڼو مسالو سره اختلاف لري او که لوی ګوندونه په راتلونکو ټاکنو کې بېل بېل نوماندان ولري او ټرمپ د دویم ځل ولسمشر کېدو هڅه وکړي، نو په امریکا کې به د ۱۸٦۰ کال په څېر وضعیت رامنځته شي. د هغه په وینا دې خبرې ته د ولسمشر ټرمپ پخواني ستر سلاکار ستېف بان متوجه کړی دی.

# د ټاکنو د روڼتیا لپاره دې پر شویو هوکړو عمل وشي




د ولسي جرګې رییس او ځینې غړي وایي چې ټاکنیز کمېسیونونه دې د ټاکنو د روڼتیا لپاره پر شویو هوکړو عمل وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له بایومېټریک پرته د کارول شویو رایو د باطلولو پرېکړه کړې، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون پرېکړه غیر قانوني ده.

د ولسي جرګې رییس عبدالرووف ابراهیمي د یادې جرګې په پرونۍ غونډه کې وویل، خلکو له دې کبله په ټاکنو کې پراخ ګډون وکړ چې کمېسیون پکې د بایومېټریک ټکنالوژۍ د کارولو ژمنه کړې وه.

ابراهیمي په ټینګار سره وویل چې اوس دې د ټاکنو د روڼتیا لپاره پر شویو هوکړو عمل وشي.

نوموړي زیاته کړه: «هیله لرم چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون او د شکایاتو کمېسیون خپلې کړنې له قانون سره سمې او له هر هغه څه سره چې د انتخاباتو د شفافیت په اړه ورباندې توافق شوی وي، عمل وکړي چې د انتخاباتو پایلې خلکو ته د منلو وړ وي.»

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي چې په ځینو ټاکنیزو مرکزونو کې د ټاکنو پر ورځ بایومېټریک سیستم سم کار نه دی کړی او دوی پرېکړه کړې چې په یادو مرکزونو کې له بایومېټریک پرته کارول شوې رایې هم وشمېري.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون بیا ویلي چې له بایومېټریک پرته کارول شوې رایې د باور وړ نه دي.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ورمه ورځ د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره وویل چې د هغو مرکزونو رایې به باطلې کړي چې له بایومېټریک پرته کارول شوې دي.

د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون دا پرېکړه که څه هم له هرکلي سره مخ شوې، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون غړي او ویاند سیدحفیظ الله هاشمي بیا ویلي چې د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون پرېکړه غیر قانوني ده.

هاشمي ویلي، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په چارو کې لاسوهنه کوي، خو پر ټاکنو د څار بنسټونه بیا وایي چې د ټاکنیزو کمېسیونونو ټکر د ولسمشرۍ پر ټاکنو ناوړه اغېز کوي.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یا فیفا وایي، د رایو د شمېر پر سر د دواړو کمېسیونونو تقابل به د ولسي جرګې د ټاکنو د پایلو پر اعلان ناوړه اغېز وکړي او دا چاره به د ولسمشریزو ټاکنو مهالوېش هم اغېزمن کړي.

د دغه بنسټ جرایوي رییس یوسف رشید ازادي راډیو ته ویلي، دواړه کمېسیونونه باید په خپلو کې سره کښېني او دې ستونزې ته د حل منطقي لاره ولټوي.

رشید زیاتوي: «باید دواړه کمېسیونونه په خپلو کې سره کښېني، ستونزې وڅېړي او د دواړو کمېسیونونو د وندېو د صلاحیتونو په ترکیب، د دغو قضیو لپاره د حل لار پیدا کړي، دوی باید یو بل د مطبوعاتو له لارې تورن نه کړي چې له دې چارې بیا یو شمېر سیاستوال ناوړه ګټه اخلي.»

رشید وایي، که ټاکنیز کمېسیونونه وخت، شرایطو او حالاتو ته په کتو دې ستونزې ته د حل معقوله لاره ونه لټوي، پر ټاکنو به د افغانانو باور کمزوری او د ولسواکۍ دا پروسه به اغېزمنه شي.

# د نږدې ۲۰۰ سپرلیو لېږدوونکې الوتکه د جاکارتا په سیند کې لوېدلې ده




د لاین ایر شرکت اړوند یوه ۷۳۷ بویینګ مسافر وړونکې الوتکه د اندونیزیا په جاکارتا سیند کې لوېدلې ده.

دې الوتکې چې ۱۸۸ مسافر پکې وو، د اندونیزیا له پلازمېنې الوتنه کړې چې څو شېبې وروسته هملته په سیند کې غورځېدلې ده.

ټاکل شوې وه چې دا الوتکه پنګکال پینانګ ښار ته الوتنه وکړي.

له هوایي ډګره له الوتنې څو شېبې وروسته له رادار سره د الوتکې اړیکه پرې شوې. تر پرون ماښامه لا معلومه نه وه چې څوک پکې ژوندي پاتې دي او که نه .

چارواکو ویلي چې په الوتکه کې دوه پیلوټان او پنځه کارکوونکي هم وو.

دغه بویینګ ۷۳۷ ماکس ۸ الوتکه له ۲۰۱٦ ز کال راهیسې د اندونیزیا په هوایي لیکه کې شامله وه چې لا یې د لوېدو لامل نه دی روښانه شوی.

چارواکو په یوه خبري کنفرانس کې ویلي، په الوتکه کې ۱۷۸ لویان، درې ماشومان، دوه پیلوټان او پنځه خدمه وو.

د اندونیزیا د هوایي اژانس مشر سوتوپو پوروو نګروهو په ټویټ کې د الوتکې د ځینو برخو عکسونه خپاره کړي چې ګواکې الوتکه په سمندر کې غورځېدلې.

نوموړي همداراز یوه ویډیو هم خپره کړې چې وایي د جاکارتا په ختیځ کې اخیستل شوې.

د الوتکې پاتې شوني د تېلو د چاڼ د یوه دولتي شرکت ته څېرمه لیدل شوي.

د دغه شرکت یوه چارواکي ویلي: «الوتکه په اوبو کې وغورځېده چې شاوخوا ۴۰ متره ډوبه شوه.»

د اندونیزیا د پلټنې او ژغورنې اژانس ویاند یوسف لطیف ویلي چې دوی د الوتکې پاتې شوني لټوي.

په ۲۰۱۳ ز کال کې هم د لاین ایر ۹۰۴ ډوله الوتکه د بالي په اوبو کې ولوېده چې ټولې (۱۰۸) سپرلۍ یې وژغورل شوې.

په ۲۰۰۴ ز کال کې بیا د همدې شرکت یوه بله الوتکه له جاکارتا نه روانه وه چې تر پورته کېدو وروسته ولوېده او ۲۵ کسان پکې ووژل شول.

## د کتـــاب خبـرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل

◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### لسمه ځانګړنه

**نوښت:**



**دې ته تم شئ**

په(مشري: د رهبرۍ ۲۱ منل شوي قوانین) کتاب کې مې ویلي وو چې رهبران له خپلو پیروانو سره د اړیکو ساتلو مسئولیت لري، خو دا نه چې رهبران دې ګني یوازې په همدې برخه کې نوښتونه کوي. دوی باید هر وخت فرصتونو ته په تمه او ګټې اخیستو ته چمتو وي.

خو هغه کومې ځانګړنې دي چې رهبران یې لري او بیا په دې ځانګړنو دوی کارونه ترسره کولای شي، ماته دا څلور ښکاري:

**۱) دوی پوهېږي چې څه غواړي**

د پیانو ټوکمار غږوونکي (اوسکار لیونت) یو ځل ټوکه کړې وه چې: (زه چې پرېکړه وکړم، بیا سخت دوه زړی یم.) له بده مرغه ډېر خلک داسې دي، خو هېڅوک نشي کولای چې په یوه وخت شکمن هم وي او اغېزناک هم. ناپیلیون هیل وایي: (د ټولو بریاوو د پیل ټکی شوق او غوښتنه ده.) که غواړئ چې ښه رهبر شئ، نو په دې باید پوه شئ چې څه غواړئ. که ځان مو داسې عادت کړ، د ښه فرصت په را رسېدو به یې سمدستي وپېژنئ.

**۲) دوی ځان عمل ته هڅوي**

انګلیسي متل دی چې: (که ودې غوښتل، وبه یې کړې.) نوښتګر خلک دې ته نه وي ناست چې نور خلک دې ورته انګېزه ورکړي. دوی پوهېږي چې ځان ته ژوند جوړول د دوی خپل مسئولیت دی او هره ورځ همدا کار کوي. په همدې خاطر ستر نوښتګر انسان تئودور روزوېلټ وایي: (زما په تېر ژوند کې چندان مهم شی نشته او که وي نو هغه به دا وي چې: کوم کار چې د کولو و هغه مې کړی دی او کله چې مې ویلي چې دا کار به کوم، نو هغه مې کړی دی.)

**۳) دوی خطر مني**

رهبران چې پوه شي څه غواړي او بیا چې د هغه کار لپاره ځان عمل ته وهڅوي، نو بیا هم ورته مخې ته یو خنډ پروت وي او هغه خنډ د خطر منلو تمایل دی. فعال خلک خطر مني، خو رهبران که خطر مني، نو په دې خاطر یې مني چې که دا خطر ونه مني، نو نوښت به نشي کولای او که نوښت ونه کړي، نو دا خپله لوی زیان دی. ولسمشر جان. اف کینیډي وایي: (هر عمل خپله بیه او خطر لري، خو دا بیه او خطر تر هغو اوږدمهالو خطرونو او بیو ډېر لږ دی چې مونږ یې د محتاطو کارونو لپاره پرې کوو.)

**٤) دوی ډېر تېروځي**

د نوښتګرو ښه خبره دا ده چې کارونه یې کېږي، خو بده یې دا ده چې تېروتنې هم ډېرې کوي. د ای. بي. ایم شرکت مشر، توماس واتسن په دې اړه وایي: (د بریا لاره دا ده چې تېروتنې مو دوه چنده شي.)

بریالي رهبران ډېرې زیاتې ماتې خوري، خو زړه نه ماتوي، څومره چې بالقوه انرژي زیاته وي، هومره به د تېروتنې امکان ډېر وي. سناتور جان رابرت کنیډي په دې اړه وایي: (یوازې هغوی بریالي کېږي چې د ماتې جرئت لري.)

که تاسې د لوی رهبر په توګه لویې بریاوې غواړئ، نو زړه وکړئ او لاس په کار شئ.

**پر دې فکر وکړئ**

تاسې نوښتګر یاست؟ په نویو فرصتونو پسې ګرځئ، که نویو فرصتونو ته په تمه کېنئ؟ په خپل زړه او جرئت ګام پورته کوئ، که شیان لومړی ښه تحلیلوئ؟

د کریلسر پخوانی اجرائیوي رئیس (لي لوکوکا) وایي: (ان سمه پرېکړه هم که په ځنډ وشي، ناسمه پرېکړه ده.) په وروستي ځل کله مو مهم کار ترسره کړی دی؟ که مو په دې وروستیو کې ځان سخت کار ته نه وي مجبور کړی، خطر مو نه وي منلی او د خوندیتوب له ساحې نه یاست وتي، نو د خپل نوښت له وړتیا ګټه واخلئ.

**د رسېدو لار**

**د ابتکار او نوښت د ودې لپاره لاندې کارونه وکړئ:**

- خپل ذهنیت بدل کړئ. که نوښت نه لرئ، نو پوه شئ چې دا ستونزه په تاسې کې ده او په بل چا پورې اړه نه لري. وګورئ چې نوښت ولې نه کوئ؟ آیا له خطره وېرېږئ؟ او که د نویو فرصتونو په ارزښت نه پوهېږئ؟ خپله د شک او تردید سرچینه پیدا کړئ او کار پرې وکړئ ترڅو په ځان کې دننه قدم وانخلئ، پرمختګ نشئ کولای.
- فرصتونو ته په تمه کېنئ. مناسب فرصتونه پخپله ستاسې دروازه نه ټکوي. له کوره ووځئ او دا فرصتونه ولټوئ. خپلو وړتیاوو، قووتونو او سرچینو ته پام وکړئ. دا به مو په خپل بالقوه قوت او انرژي خبر کړي. له اوسه تر یوې اونۍ په مناسبو فرصتونو پسې وګرځئ. په کوم ځای کې اړتیا ده؟ ستاسې تخصص ته په کوم ځای کې خلک اړ دي؟ مناسب فرصت په هر ځای کې شته، یوازې لیدونکې سترګې غواړي.
- وروستی ګام واخلئ. د مناسب فرصت لیدل او له هغې ګټه اخیستل دوه جلا موضوعات دي. زیاتره خلک مفکورې لري، خو یوازې د ګوتو په شمېر کسان یې عملي کولای شي. کوم تر ټولو مناسب فرصت چې درته ښکاري هغه وټاکئ او هڅه وکړئ چې ډېره زیاته ګټه ترې واخلئ ترڅو چې خپل هدف ته نه یئ رسېدلي، لاس ترې مه اخلئ.

**له تجربې زده کړه**

په ۱۹۴۷ز کال کې (لستر وندرمین) د نیویارک له یوه تبلیغاتي شرکته وایستل شو. خو دا ځوان پوهېده چې د شرکت له رئیس (مکس ساکهایم) څخه ډېر څه زده کولای شي. په سبا بېرته خپل دفتر ته لاړ او وړیا کار یې پیل کړ.

د شرکت رئیس ورته یوه میاشت هېڅ پام ونه کړ، خو بلاخره ورته ورغی او ویې ویل: (ډېر ښه! تا وګټله، ما تراوسه داسې څوک نه دی لیدلی چې دنده ورته تر معاشه ډېره ګرانه وي.)

همدا ځوان وروسته په سوداګریزو اعلانونو کې بریالی شخصیت او د مخامخ بازار موندنې پلار وبلل شو. نن باید زړور ګام واخلئ چې سبا د خپلو وړتیاوو او قوت بام ته وخېژئ. **دوام لري...**

# عبدالجبار قهرمان

جواد تیموري



تورن جنرال عبدالجبار قهرمان د محمد حسن زوی و چې په ۱۳۳۷ لمریز کال کې یې د کندهار ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې.

قهرمان لومړنۍ زده کړې په خپل کلي او کور کې تر سره کړې او وروسته د هغې علاقې له مخې چې له نظامي چارو سره یې درلوده، د کابل حربي ښوونځي ته شامل شو او په ۱۳٦۱ لمریز کال کې یې له دغه ښوونځي څخه د دوولسم ټولګي سند ترلاسه کړ. نوموړی په همدې کال د کابل حربي پوهنتون ته بریالی شو او په ۱۳٦۳ لمریز کال کې یې له دغه پوهنتون څخه د ساینس په برخه کې د لیسانس په کچه سند واخیست. نوموړي په پښتو سربېره په دري او روسي ژبو هم خبرې کولې.

تورن جنرال عبدالجبار قهرمان له پوهنتون څخه تر فراغت وروسته لس کاله د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د ملي اردو د قوماندان په توګه دنده ترسره کړه او رتبه یې تر تورن جنرالۍ پورې رسېدلې وه.

نوموړی دوه کاله وړاندې کله چې په سوېلي ولایت هلمند کې جګړه زور واخیست، د ولسمشر محمد اشرف غني له لوري د جګړې د مدیریت لپاره دغه ولایت ته د خپل استازي او اپراتیفي مشر په توګه ولېږل شو چې جګړه یې تر ډېره کابو کړه او دغه ولایت یې د سقوط له ګواښ څخه وژغوره.

عبدالجبار قهرمان لښکرګاه ښار ته په داسې حال کې ورسېد چې جګړه د دغه ښار تر څو کیلو مترۍ پورې را رسېدلې وه. له رسېدو سره سم د ولایت مقام ته ولاړ. له هماغه ځایه یې د تبلیغاتي جګړې پر ضد خپله یاغي او توپاني ژبه پرانیسته. هغه چې د لښکرګاه د سقوط هدف یې فرضي بللی و، د شهید قهرمان تر تبلیغاتي جګړې لاندې راګیر شول. قهرمان د ملت په ګډون د جګړې ټولو جنګیالیو ته خورا ستر مورال او غښتلې انګېزه ورکړه.

قهرمان د غښتلې تبلیغاتي جګړې په څنګ کې عملاً د جګړې کرښو ته مخ ور واړاوه. د هلمند د هغه وخت د ملي امنیت د رییس تورن جنرال یاسین خان سره یې په ګډه د سونګریانو په نوم لښکر جوړ کړ چې وخت ناوخته به یې د وسله والو طالبانو په پټنځایونو او د جګړو پر کرښو بریدونه کول.

سونګریان چې موټرونه، وسلې او جامې یې د وسله والو مخالفینو په څېر وې؛ په دې وتوانېدل چې د خپل دښمن منځته ځانونه ور واچوي، دغه سرتېري د نفوذي لاسته راوړنو ترڅنګ په جبهه یې جګړه کې هم ور ښکېل شول. قهرمان دغه مهال سمدلاسه خپله ځیرکتیا او استخباراتي تجربه په کار واچوله، د عملیاتي قوي قوماندانان او سرتېري یې راغونډ کړل او د جګړې لپاره یې پر واحدې قوماندې سلا کړل.

قهرمان د باباجي په خط کې سرتېرو ته په خطاب کې وویل: «تر بارامچې به خپل توریالی لښکر بیایي او هلته به د روانې جګړې رسی وشکوي.» قهرمان که څه هم په خپل دغه درې میاشتني ماموریت کې بارامچې ته ولاړ نه، خو تر موسی کلا، سنګین او نوزاد پورې یې ډېرې ساحې له وسله والو مخالفینو څخه ونیولې او دغه ولایت یې د سقوط له ګواښ څخه وژغوره.

قهرمان د هلمند د جګړې په اړه له رسنیو سره په خبرو کې ویلي وو: «ما درې کاله د هلمند د جګړې مشري پر غاړه درلوده، زما له راتګ څخه څو ورځې مخکې وسله والو طالبانو په لښکرګاه ښار سخت بریدونه وکړل او له امنیتي ځواکونو څخه یې ځینې پوستې او سیمې هم ونیولې، خو زما له راتګ وروسته په دې وتوانېدو چې په دغه ولایت کې شته امنیتي ځواکونه بېرته منسجم کړو او د دښمن په مورچو تعرضي بریدونه پیل کړو. هلمند یوه ستراتېژیکه سیمه ده، دغه ولایت وسله والو مخالفینو ته ځانګړی ارزښت لري، که دوی یې په خپل کنټرول کې ولري، نو په دې مانا ده چې دوی به په ټول جنوب کې لوړ لاس ولري. نو له همدې امله که هلمند ناارامه وي، ټول افغانستان به ناارامه وي.»

قهرمان سربېره پر دې چې یو وطنپال او پیاوړی جنرال و، د ولسي جرګې په ۱٦مه دوره کې د هلمند ولایت د خلکو استازی او د دې جرګې د شکایتونو د کمېسیون غړیتوب یې هم درلود.

د ولسي جرګې غړی عبدالستار درزابي د نوموړي په اړه وایي: «تل به یې خلک یووالي، یو نظر، همدلي او یو اړختوب ته رابلل، د واحد، خپلواک او مستقل افغانستان د جوړېدو په خاطر یې دعوت کاوه.»

عبدالجبار قهرمان سربېره پر دې د هېواد په رسنیو کې هم وخت ناوخته د افغانستان په روانو حالاتو بحثونه کول او تر ډېره یې ځینې حکومتي چارواکي په فساد او بې کفایتۍ تورنول.

پخواني پوځي چارواکی، جنرال عتیق الله امرخېل یې په اړه وایي: «هغه ډېر وطندوست کس و، خلک پرې ګران وو، د فقیر، بېچاره، کارګر او کمزورو خلکو پلوی و.»

قهرمان تل پر سوله ټینګار کاوه، افغانان یې یووالي ته رابلل. هغه د افغانستان روانه جګړه پردۍ ګڼله او تل به یې سپارښتنه کوله چې دا جګړې پردۍ دي، تر هغو چې موږ یې په خپله ونه دروو، نه درېږي.

قهرمان د ډاکټر نجیب د ګوند(د وطن ګوند) یو پیاوړی غړی و، دغه ګوند چې په ٦۰ مه لسیزه کې رامنځته شوی و، د افغانستان د پخواني ولسمشر او د دغه ګوند د مشر له وژل کېدو وروسته وپاشل شو، خو په دې وروستیو کې قهرمان په دې وتوانېد چې د دغه ګوند غړي بیا ځلې سره منسجم او دغه ګوند په پښو ودروي.

د وطن ګوند د بیا ځلي فعالیت او انسجام څخه وروسته قهرمان د یاد ګوند د انسجام د ریاست مسوولیت په غاړه واخیست.

د وطن ګوند د انسجام د سراسري کمېټې مرستیال، ایمل لیار له بي بي سي سره په خبرو کې ویلي: « عبدالجبار قهرمان د وطن ګوند د بیا انسجام په برخه کې زیاتې هڅې وکړې.»

بالاخره د ولسي جرګې غړی، پیاوړی جنرال او نظامي د ۱۳۹۷ لمریز کال د تلې په ۲۵مه هغه مهال په هلمند ولایت کې په خپل دفتر کې د ښخ کړل شوي ماین په چاودنه کې له خپلو دریو نورو همکارانو سره یو ځای ووژل شو چې د ۱۳۹۷ لمریز کال د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره په کمپاین بوخت و.

د قهرمان مړی له هلمند ولایت څخه د الوتکې په واسطه کابل ته ولېږدول شو او جنازې یې د لوړ پوړو چارواکو، وکیلانو او د کورنۍ غړو په شتون کې په کابل کې د ولسي جرګې د غړو په ځانګړې هدیره کې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې خاورو ته وسپارل شوه.

د عبدالجبار قهرمان په وژل کېدو د چارواکو ترڅنګ د ټولنیزو رسنیو ډېری ګډونوالو هم خواشیني وښوده او نوموړی یې په هېواد مین او زړور جنرال یاد کړ.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۱۰ |
| € | ۸۵,۷۰ |
| Rp. | ۵۷۵ |
| ₹ | ۱۰۲۵ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۵,۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 10:30 |
| کابل - دوبی | 16:30 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنی شمېري

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# بریالي اشخاص له پیسو سره دا تېروتنې نه کوي!

ژباړه: نوراحمد فضلي

هغوی چې نن د بریا لوړو پوړیو ته رسېدلي دي، دې ځای ته د رسېدو لپاره له کړاوونو او گړنگونو تېر شوي دي. اوس پوښتنه دا ده چې بریالي کسان په خپلو پیسو کوم کارونه کوي؟

په بریالیتوب کې د پیسو اغېزناک مدیریت له مهمو مهارتونو څخه دی. ډېری بریالي کسان د خپل ژوند له لومړیو کلونو تصمیم نیسي، څو د پیسو د گټې او خرڅ په اړه اغېزناک و اوسي. ستاسې د عوایدو پر بنسټ ژوند کول د مالي مدیریت یو مهارت دی. د نړۍ ډېرو بریالیو کسانو په خپل توان سره له دې اصله کار اخیستی دی. د بېلگې په ډول، سرجان تمپلتون یو افسانوي پانگوال چې میلیونر و، هغه چې له محدودو لارو تېر شو، خپل ۵۰ سلنه عواید یې سپما کړل. موږ که ۵۰ سلنه نه شو سپما کولای، کولای شو چې له ۱۰-۱۵سلنه عوایدو په سپما کولو سره مالي بریالیتوب حاصل کړو.

په دې تړاو ځینې مهم ټکي په لاندې ډول دي:

۱-د سپما لارې چارې ولټوئ!

بریالیو کسانو ته د توکو بیه مهمه ده. هغه نرخ چې د ډوډۍ، یوه جوړه کالیو یا پانگونې لپاره یې ورکوي، یوازې د کیسې یوه برخه ده. بریالي کسان د یادو توکو نرخ ته هم حساب کوي. په پانگونو کې د هماغې پانگونې ودې ته په راتلونکې کې حساب کوي.

د شخصي موارد‌و لپاره، باکیفیته توکي اخلي چې ډېر وخت او عمر ولري. د بېلگې په ډول، شونې ده یو ډول تجارتي بوټ چې بیه یې ۲۰۰ ډالره یا تر دې ډېره وي، اخلي. که له دې بوټو په صحیح توگه ساتنه وشي، کلونه به ترې استفاده وشي.

۲- لوړ کیفیت لرونکي توکي وپېرئ چې د ډېر وخت له پاره دوام وکړي

بریالي کسان پوهېږي چې څنگه خپل ضمانتونه مدیریت کړي، باید د خپلو قسطونو لپاره په میاشت کې یو حد کېږدئ. د CNN په حواله، د امریکایي کورنیو سامان الاتو متوسط نرخ له ۱۵ زره ډالره زیات قسط په ځان پسې لري. همدارنگه بریالي کسان همېشه خپلو بانکي تنخواگانو ته هم یو نظر کوي، دا چې څومره اندازه له ATM کارډه د استفادې او نورو پېښو لپاره ورکوي. کله چې مو د سیستم د کار د ډول لاره بیا موندله، له دې تنخواگانو څخه د خلاصون لار اسانه ده.

۳- یوازې په هره میاشت کې له ۱۰-۱۵ دقیقو خپل مالي حساب ته بیاکتنه، هغه ټول وخت دی چې د دې تنخواگانو د درک او په هغو کې د سپما لپاره لازم دی.

بریالي کسان په ژوند کې تر ژورو تحولاتو وروسته خپله شتمني له هغه سره هماهنگ کوي.

ایا تازه مو واده کړی دی؟ ایا ستاسې خاوند ستاسو له هیلو او ارزوگانو خبر دی؟ دا هغه ټکي دي چې بریالي کسان یې په خپلو مالي چارو کې په خورا اغېزناک ډول ترسره کوي. خپل ژوند او خپلو مالي طرحو ته په کال کې یو وار بیاکتنه کول، دا د مهمو حالاتو او شرایطو لاندې راتلو پر مهال خورا عالي او بهترین اسلوب دی.

بریالي کسان پر ولاړو او سوکه عوایدو قانع نه دي، هغوی د خپلو عوایدو د لوړولو لپاره د لارو په پیداکېدو پسې دي.

ځینې کسان د ډېرو پیسو غوښتنه نه لري یا یوازې د لږو پیسو په ترلاسه کولو سره قانع کېږي. متاسفانه ستاسې د عوایدو هغه اندازه چې تاسې یې د لاسته راوړلو لپاره ځای پر ځای ولاړ یاست، له تاسې څخه د پېر قدرت اخلي. بلخوا، بریالي کسان د لا ډېرو عوایدو په ترلاسه کېدو پسې دي. ډېر عواید، تاسې ته د خپلو شخصي علایقو لپاره انتخاب او یو ډول د خوندیتوب احساس درکوي.

بریالي کسان هره ورځ د خپلو عوایدو د لوړېدو لپاره کار کوي. د بېلگې په ډول، په زده کړییزو دورو کې د خپلو مهارتونو د زیاتېدو لپاره گډون کوي یا د خپل شرکت لپاره د نوښت او خلاقیت زیاتېدو په نظریاتو کې همکاري کوي. هغوی پوهېږي چې څرنگه د زیاتو پیسو لپاره اقدام وکړي.

۴- له ځانو سره لطف وکړئ او داسې مهارتونه زده کړئ چې د لوړ عاید درلودونکي وي

بریالي کسان په هره میاشت کې د خپلو مالي چارو د بیاکتنې لپاره د اخطاریو دوره وار زنگ لري.

مالي بریالیتوب ته رسېدل د ځینو ارامو او مستمرو عادتونو ایجادول غواړي. په دې کې کېدای شي ستاسې د بېلانس د کنټرول عادت هم شامل شي. بریالي کسان په هره میاشت کې له ۳۰-۶۰ دقیقو د خپلو مالي چارو بیاکتنې ته ورکوي. پانگونې، بانکي حسابونه، د اعتبار کادرونه او کله چې تېروتنه ویني، سملاسي اقدام کوي.

بریالي کسان د خپلو پیسو په باره کې احمقانه رېسک نه اخلي.

د وارن بافت (Warren Buffett) له قوله چې ویلي یې دي: «د پیسو لپاره دوه قانونه دي: لومړی قانون دا دی چې هېڅکله پیسې له لاسه مه ورکوئ. دویم قانون: لومړي قانون ته پاملرنه وکړئ.»

هر ډول پانگونه له یو لړ خطرونو سره تړلې ده او پر دې اساس د پیسو له لاسه ورکولو پوټنشیل هم په ځان پسې لري. ویل شوي دي چې بریالي کسان له ماتې او ضرر څخه د پرهېز په موخه له دوو قوي وسایلو استفاده کوي. هغوی د خطر د کنټرول لپاره د عاید گټونکې شتمنۍ ایجاد او د بیمې ارزښت درک کوي. لکه، کور او د عمر بیمه.

بریالي کسان متخصصو کسانو ته مسوولیت نه سپاري.

بریالي کسان د متخصصو کسانو سپارښتنې تعقیبوي او سره له دې هېڅکله بل چا ته مسوولیت نه سپاري.

د بېلگې په ډول، دا ډېره ښه ده چې د خپلو مالي چارو د پلانولو لپاره له مالیاتي حسابدار څخه سپارښتنې طلب کړئ، مگر بریالي کسان د پوښتلو لپاره وخت ورکوي او له هغه کس څخه د سپارښتنو اخیستلو د مخه یوار هغه ارزیابي کوي.

بریالي کسان پوهېږي چې مالي بریالیتوب یوازې د بریالي ژوند یو اړخ دی.

په مالي بریالیتوب پسې تلل یو ارزښتمن هدف دی. مهمې مالي منابع تاسې ته زیات انتخابونه درکوي، څو هغو دلایلو ته په کتو سره چې تاسې پرې باور لرئ؛ وخت او انرژي ځانگړې کړئ. همدارنگه کېدلای شي چې دا ټکنالوژۍ، روغتیا او فراغت ته د لاسرسي په معنا وي، مگر بریالي کسان پوهېږي چې مالي بریالیتوب یوازې د ژوند یوه برخه ده. د بېلگې په ډول، د پیسو ضایع کېدو له وجې روغتیا ته پام نه کول، یو ډېره کمزورې ستراتېژي شمېرل کېږي.

# د غزني اته ولسوالۍ په بشپړه توگه د طالبانو په ولکه کې دي

د غزني د ولایتي شورا مرستیال وایي چې د دغه ولایت د اتو ولسوالیو بشپړ کنټرول له وسله والو طالبانو سره دی او د پنځو نورو یې بیا یوازې مرکزونه د حکومت په لاس کې دي.

د غزني د ولایتي شورا مرستیال امان الله کامراني وایي چې په سقوط شویو ولسوالیو کې رشیدان، خواجه عمري، زنخان، جغتو، اجرستان، خوړیانۍ، ده یک او واغظ شامل دي.

د کامراني د معلوماتو له مخې، د اندړو، قره باغ، گیرو، گیلان او اب بند ولسوالیو بیا یوازې مرکزونه له حکومت سره دي.

ده ویلي چې جاغوري، مالستان او ناهور ولسوالۍ امنې دي خو لویې لارې یې بیا د طالبانو په کنټرول کې دي.

کامراني زیاته کړې: «که حکومت د غزني امنیت ته جدي پاملرنه ونه کړي، نو کېدای شي چې یو ځل بیا له سقوط سره مخ شي.»

دغه راز د قره باغ ولسوالۍ اوسېدونکي رحمت الله پژواک ته ویلي چې له څو میاشتو راهیسې دا ولسوالۍ د طالبانو له لوري کلابنده ده.

هغه وایي چې طالبانو د کندهار-کابل لویه لار هم د غزني په قره باغ، اب بند او مقر ولسوالیو کې تړلې ده.

ده زیاته کړې: «زموږ د ولسوالۍ شاوخوا ته طالبان پراته دي، څو ځلې کومکي ځواکونه هم راغلل، خو ولسوالۍ کې دننه پراته دي او تر اوسه نه دي وتلي».

همدارنگه د غزني- کندهار لویې لارې یوه موټر چلوونکي سمیع الله پژواک ته ویلي چې طالبانو پر دې لویه لار څو ځایه چک پاینټونه جوړ کړي دي.

دی وایي: «څو ځایه پلچکونه هم خراب شوي، موږ مجبور یو چې په خامه لارو تگ راتگ وکړو.»

د دغه ولایت یو شمېر نورو اوسېدونکو هم ورته څرگندونې کړې دي.

د غزني والي وحیدالله کلیمزی وایي چې په دې وروستیو کې په دغه ولایت کې امنیتي وضعیت خراب شوی دی.

والي زیاته کړې چې په غزني کې د امنیت د ټینگښت په موخه یې له امنیتي ځواکونو سره یوځای هلې ځلې پیل کړې دي.

دغه راز د غزني امنیه قوماندان مل پاسوال غلام داوود تره خېل پژواک ته ویلي چې د دغه ولایت د لویو لارو د امنیت د ټینگښت په موخه یې عملیات پیل کړي دي.

هغه وایي: «په لویو لارو کې به پوستې جوړې کړو او زموږ د کوماندو ځواکونو په چاپو کې گڼو طالبانو ته مرگ ژوبله هم اوښتې ده.»

قوماندان د ولسوالیو د سقوط په اړه څه نه دي ویلي، خو زیاته کړې یې ده چې هغو ولسوالیو ته به ډېره توجه وکړي چې دا مهال یې امنیت له سختو گواښونو سره مخ دی.

وسله والو طالبانو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي خو تر دې وړاندې د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد پژواک ته ویلي وو چې د غزني ولایت ډېرې سیمې له طالبانو سره دي.

شاوخوا درې میاشتې وړاندې وسله والو طالبانو په غزني ښار برید وکړ چې له څو مهمو دولتي ادارو پرته یې نورې ټولې سیمې ونیولې.

# نظرپوښتنه: افغانان د نړۍ تر ټولو نهیلي خلک دي

د یوې نظرپوښتنې پایلو ښودلې چې افغانان د نړۍ تر ټولو نهیلي خلک دي او دغه راز یې راتلونکې ته هیلې ورځ تر بلې کمېږي.

دا نظرپوښتنه چې د گال اب بنسټ له لوري د نړۍ په ۱٦۰ هېوادونو کې شوې او په پایله کې یې ویل شوي چې د مناسبو روغتیایي او تحصیلي خدمتونو نشتوالی او امنیتي ستونزې د افغانانو د نهیلۍ لوی لاملونه دي.

د یاد بنسټ د موندنو پر بنسټ، هغه نومرې چې افغانانو د خپل ژوندانه وضعیت ته ورکړې، د نړۍ د نورو ټولو هېوادونو د وگړو په پرتله کمې دي.

افغانانو د دې پوښتنې په ځواب کې چې د خپل ژوند کیفیت ته له لسو څو نومرې ورکوي، په اوسط ډول ۲.۷ نومرې ورکړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې افغانانو په ۲۰۱٦ز کال کې د یاد بنسټ په ورته نظرپوښتنه کې د خپل ژوندانه وضعیت ته ۴.۲ نومرې ورکړې وې. د نظرپوښتنې له پایلو ښکاري چې افغانان له خپل راتلونکي ورځ تر بلې نهیلي شوي دي.

هغه کسان چې په نظرپوښتنه کې یې گډون کړی د ۲/۳ برخې عمرونه یې تر ۳۵ کلونو کم دي.

له پوښتل شویو یوازې ۳٦ سلنه برخې ویلي چې د ورځې په اوږدو کې یې خندلي، په داسې حال کې چې په ۲۰۱٦ز کال کې بیا ۵۲ سلنه خلکو ویلي وو چې د ورځې یې خندلي دي.

۵۷ سلنه پوښتل شویو ویلي چې په تېرو کلونو کې یې د خوراکي موادو د موندلو لپاره کافي پیسې نه درلودې او ۵۰ سلنه نورو بیا ویلي چې د سرپناه د برابرولو جوگه نه دي.

د نظرپوښتنې په پایلو کې دا هم په ډاگه شوې چې هېڅ افغان په لنډمهال کې د خپل ژوندانه د وضعیت د ښه کېدو هیله نه لري. یوازې ۴ سلنه افغانانو ویلي چې ژوند یې ښه پر مخ روان دی او اووه سلنه نورو بیا ویلي چې دا څو کاله یې په ژوند کې هېڅ بدلون نه دی راغلی.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** عبدالرقیب نوري
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري او جواد تیموري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۷ د لړم اتمه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۳۰مه | دویم کال | ۲۷٦یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۲٤ | ۱٤ | ۲۷ | ۱٦ | ۳۲ |
| ۹ | ٦ | ۱۱ | ۸ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۸ | لمر ختل ۰٦:۱۱ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۳:۲٤ | ماښام ۰۵:۰۳ | ماخوستن ۰٦:۲۷

## نړۍ



۳


## په ترکیه کې د نړۍ تر ټولو ستر هوايي ډګر پرانیستل شو



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان په دغه هېواد کې د نړۍ تر ټولو لوی هوايي ډګر پرانیست.
د ترکیې حکومت له ۲۰۱۳ ز کال راهیسې پرله پسې هڅې کولې چې یاد هوايي ډګر پر ټاکلې نېټه ګټه اخیستنې ته وسپاري.
یاد هوايي ډګر شاوخوا ۷۷ کیلو متره مربع پراخوالی لري چې د امریکا د اتلانتا هوايي ډګر دوه برابره دی. د اتلانتا هوايي ډګر تر دې مهاله د نړۍ تر ټولو ستر هوايي ډګر بلل کېده.
د ترکیې له دغه هوايي ډګر څخه پرون دوشنبه الوتنې پیل شوې. دا ورځ د ترکیې د جمهوري نظام ۹۵ کلیزه هم ده.
اسوشیټېډپرېس وايي، له دغه هوايي ډګره به په لومړیو ورځو کې یوازې د لنډو واټنو الوتنې کېږي چې وروسته به یې بیا مهالوېش او الوتنې بدلې شي.
ټاکل شوې چې د دغه کال په پای کې به دغه هوايي ډګر د اتاترک د نړیوال هوايي ډګر ځای ونیسي او د اتاترک د هوايي ډګر ټول کارونه به نوي رغول شوي هوايي ډګر ته ولېږدول شي.
د ترکي رسنیو د راپورونو پر اساس، پنځو ترکي شرکتونو په ۲۰۱۳ ز کال کې د دغه هوايي ډګر د جوړولو کار پیل کړ چې ۳٦۰۰۰ کارکوونکو پکې برخه لرله. لا دقیقه معلومه نه ده چې څومره لګښت پرې راغلی دی.
د ترکي چارواکو د اټکل له مخې به له دغه هوايي ډګره د کال شاوخوا ۹۰ میلیونه مسافر تګ راتګ کوي، خو تر لسو کلونو پورې به دا شمېره د کال ۲۰۰ میلیونو تنو ته ورسېږي.

## ډیوېډ پټریوس: ایران به اخر هم د خپل اټومي پروګرام پر سر خبرو ته حاضر شي

د امریکا د مرکزي استخباراتو اداري یا سي ای اې پخواني مشر ډیوېډ پټریوس ویلي، د امریکا اوسنی حکومت له پخوانیو هغو سره توپیر لري او پر ایران د بندیزونو دوام به تهران مذاکراتو ته مجبور کړي.
پټریوس عرب نیوز ورځپاڼې ته ویلي، ایران داسې هېواد دی چې که له جدي غبرګون سره مخ نه شي، نو خپلسریو ته دوام ورکوي.
پټریوس په افغانستان او عراق کې د امریکایي ځواکونو د قوماندان په توګه دنده ترسره کړې او د عرب نیوز د ادعا پر



بنسټ، د سیمې وضعیت په ښه توګه درک کولی شي.
نوموړی چې دا مهال د کې کې ار په نوم د یوې امریکایي کمپنۍ مشري کوي، د بحرین په پلازمېنه کې د منامه ډیالوګ په نوم د کلني امنیتي کنفرانس مهم ویناوال و.
ده کنفرانس ته په وینا کې ویلي:
«ایران خپل اټومي پروګرام ته په دوام ورکولو سره یوه لوی فرصت له لاسه ورکوي، دوی نه غواړي چې د ایران د اټومي تړون له ښېګڼو استفاده وکړي.»
یاد پخواني امریکایي پوځي ویلي چې د ډونالډټرمپ په مشرۍ د امریکا نوی حکومت له پخوانیو هغو سره توپیر لري.
ده ټینګار کړی چې پر ایران به د امریکا بندیزونه تر هغه دوام کوي چې یاد هېواد د خپلو ژمنو پوره کولو ته تیار شوی نه وي.
پټریوس ویلي، تهران به اخر هم د خپل اټومي پروګرام پر سر خبرو ته حاضر شي.


## وزارت خارجه روسیه از انتخابات ولسی جرگه استقبال کرده است



فدراسیون روسیه از انتخابات ولسی جرگه شورای ملی افغانستان که بتاریخ ۲۰ اکتوبر برگزار گردید، استقبال کرده و حقیقت برگزاری انتخابات را بعنوان نشانگر تقویت اصول و مبانی دموکراسی در جامعه افغانی تلقی مینماید.
در عین حال تخلفات متعدد از قانون انتخابات افغانستان ثبت گردیده است. انتخابات با حضور کمرنگ رای دهندگان (طبق ارقام مقدماتی، کمی بیشتر از ٪٤۵ ثبت نام شوندگان) تدویر یافت. نارسایی های در تأمین امنیت انتخابات نیز بملاحظه میرسید: ٤٤ نفر در نتیجه حملات تروریستی در مناطق مراکز انتخاباتی جان باختند و ۲۳۸ نفر دیگر زخم برداشتند. انتخابات در دو ولایت به تعویق انداخته شده است.
وزارت امور خارجه روسیه توقع آنرا دارند که زمان اعلام شده از سوی کمیسیون انتخابات برای اعلان نتایج شمارش اراء الی اواخر ماه نومبر سال جاری میلادی کافی خواهد بود. از نظر مسکو، ارزیابی جمعبندی های انتخابات از لحاظ سیاسی و اینکه این جمعبندی ها چی تاثیری روی انکشاف بیشتر اوضاع در کشور میگذارد، بعد از اعلان نتایج ممکن خواهد بود.
خانم ماریيا زاخارووا سخنگوی وزارت امور خارجه روسیه در جریان کنفرانس خبری در روز ۲۵ اکتوبر اعلام نمود: «انتشار اظهارات بعضی باصطلاح کارشناسان و حتی مقامات رسمی در رسانه ها مبنی بر اینکه گویا روسیه سطح تهدیدات، بخصوص تهدیدات ناشی از گروه تروریستی دولت اسلامی موسوم به داعش در افغانستان را بزرگ جلوه میدهد مایه تعجب ماست.
ارزیابی های خود از تهدیدات ناشی از داعش در افغانستان را بزرگ جلوه دادن تلقی نمیکنیم. داعشیان به تحکیم مواضع خود در ولایات شمال ادامه داده و به تبلیغات جدی در بین باشندگان محلات میپردازند. جنگجویان داعش بطور منظم حملات تروریستی را انجام میدهند. ما مکرراً توجه را به پرواز های هلیکوپتر های ناشناس در محلات پایگاه های این جنگجویان جلب کرده ایم. این هلیکوپتر ها تسلیحات و نیرو ها را برای داعشیان اکمال مینمایند. بسیار جالب است، زیرا که خاک افغانستان پر از سربازان امریکایی و ناتو میباشد. چگونه ممکن است پیشبینی کرد هلیکوپتر (نه موتر) بدون هیچنوع علامت شناسایی در حریم هوایی افغانستان پرواز میکند.
میخواهم یکبار دیگر یادآور شوم اینکه تامین امنیت اتباع روسیه در افغانستان و کمک به پروسه آشتی ملی در این کشور هدف اصلی تماس های روسیه با طالبان را تشکیل میدهد. راستی، ایالات متحده امریکا و بعضی کشور های دیگر همچنان با طالبان تماس های دوامدار برقرار مینمایند. امیدواریم که این تماس ها به نفع پیشرفت پروسه صلح در افغانستان منتج گردد».

## ژوند

## شیدې مو هډوکي قوي کوي!



د هډوکو د ورستوالي ناروغي د نارینه وو په پرتله په ښځو کې زیاته لیدل کېږي، خو کله کله په نارینه وو کې هم لیدل کېږي. نړیوالې څېړنې ښیي چې ۱۵ سلنه هغه نارینه چې عمرونه یې له ۵۰ کلونو لوړ وي، د هډوکو د ورستوالي له ناروغۍ سره مخ دي.
د دې لپاره چې له دې ناروغۍ مو ځان ژغورلی وي، غوړې او یا نیمه غوړې شیدې وخورئ. شیدې په خپل ترکیب کې کلسیم او ویټامین (ډي) لري. دغه ویټامین د ټسټسرون له تولید سره مرسته کوي. دا هغه هورمون دی چې په هډوکو کې د کلسیمو کچه کنټرولوي او نه پرېږدي چې کلسیم یې ضایع شي.
دغه راز کولای شی له شیدو پرته له نورو لبنیاتو څخه هم د هډوکو د پیاوړتیا لپاره ګټه واخلی. هڅه وکړئ چې په ورځني ډول هرو مرو د لبنیاتو له ډلې هغه که شیدې، مستې او یا هم پنیر وي؛ یو ځل ګټه واخلئ.

## د مطالعې ګټې څه دي؟

**۱- مطالعه د ذهني پیاوړتیا له یوه منظم جریان څخه عبارت ده**


د ټلوېزیون برعکس کتاب تاسو مجبوروي چې له خپل مغز څخه ګټه واخلی. د مطالعې په وخت تاسو ډېر فکر کوی او ذکاوت مو پیاوړی کېږي.

**۲- مطالعه د پوهې لپاره تهداب او پایې جوړوي**

د ځمکې پر سر د هرې موضوع په اړه کتاب لیکل شوی چې د ضرورت په وخت کې کولای شی ترې ګټه واخلئ او مطالعه یې کړئ؛ ځکه د کتاب لوستل تاسو سره د موضوع په روښانه کولو کې مرسته کوي. په کتابونو کې داسې معلومات نغښتل شوي وي چې ډېر کله په صنف کې د استاد له خولې نه راوځي او یا هم پرې بحث نه کېږي.

**۳- مطالعه کول ستاسو لغوي پانګه زیاتوي**

په یاد به مو وي چې پخوا به مو څه ډول



د یوه لغت اصلي مانا زده کوله او یادوله به مو؟ همدا د کتاب ګټه ده چې اوس په ډېرې اسانۍ سره کولای شی په کم وخت کې د یوه لغت مانا زده کړی. په ځانګړې ډول کله چې تاسو لوی لوی کتابونه مطالعه کوی، له ګڼ شمېر نویو لغتونو سره اشنا کېږی چې په زده کولو سره مو یې لغوي پانګه زیاتېږي. مطالعه تاسو ته دا چانس درکوي څو د نړۍ له بېلابېلو فرهنګونو او جغرافیو سره اشنا شی.